


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



## انجينر محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نېټه : 12 آپريل 2015 م

# رحمان څه ملامت...؟

چی وطن په مونږ ګران نه دی نو جهان څه ملامت
چی ببر سر څیری ګریوان دی نو سلمان څه ملامت
مونږ نه دین لاره ده ورکه ولی چیغی د اسلام کړو
چی نفس پسی کړو منډی نو شیطان څه ملامت
وطن ډک دی زمونږ له زرو،مونږه نوروته محتاج یو
چی په قدر یي نه پوهیږو لعل مرجان څه ملامت
که نیرنګ چیری حاکم وی،اعتبار ډیوی مړی کیږی
چی تور وینی وايي سپین دی نو چشمان څه ملامت
کافران خپل ګټی ساتی،مونږ خپل مینځ کی دښمنی
چی بیرحمه یو بل وژنو کافران څه ملامت
چی ککری کی څه نشته نود علم بحث ته څه کړی
چی د شعر فهم له تا جیګ دی شاعران څه ملامت
نن په سپکو سترګو ګوری د تاریخ تللی کاروان ته
چی بی ځایه غاپی سپیان ګوره کاروان څه ملامت
د کتاب ډکو ورقو ته یودم کیالی ته باسی
چی لوستلو کی ټمبل يي نو رحمان څه ملامت

محب الرحمن « خطیبی »

www.said-afghani.org بازگشت به صفحه اصلی